التبيان في علوم القرآن

اول فصل

السوال الاول : د قرآنکریم تعریف ولیکئ ؟

جواب : هو کلام الله المعجز المنزل على خاتم الانبياء والمرسلين بواسطة الامين جبريل عليه السلام المكتوب فى المصاحف المنقول الينا بتواتر المتعبد بتلاوته المبدوء بسورة الفاتحة المختتم بسورة الناس .

السوال الثاني : د قرانکریم فضیلت څوډوله ده ؟

جواب : د قرآنکریم فضیلت درې ډوله ده اول هغه ده چې تعلق تر تعلیم او تعلم د قرآنکریم پورې لري دوهم هغه ده چې تعلق تر قرائت او ترتیل پورې لري او دریم هغه ده چې تعلق تر حفظ او ترجیع پورې لري .

السوال الثالث : کوم ایت شریف چې دقرآنکریم په فضیلت کې راغلی وي ویې لیکئ؟

جواب : د قرآنکریم د فضیلت باره کې خو ډېر آیتونه راغلي دي خو دهغو له جملې څخه یو دا دی (ان الذين يتلون كتب الله وأقاموا الصلوة و انفقوا مما رزقنهم سرا و علانية يرجون تجارة لن تبور) سورة فاطر

السوال الرابع : (اوزدعليه ورتل القرآن ترتيلا) دا آیت د قرانکریم تر کوم فضیلت پورې تعلق لري ؟

جواب : د ایت د قرانکریم په ترتیل یعني د قرانکریم په کراره لوستلو فضیلت پورې تعلق لري اوترې نه ثابتیږي.

السوال الخامس: (خيركم من تعلم القران وعلمه) دا حدیث دقرانکریم تر کوم فضیلت پورې تعلق لري؟

جواب : دا دقرآنکریم د تعلیم او تعلم تر فضیلت پورې تعلق لري او ترې نه ثابتیږي.

السوال السادس : (اشراف امتي حملة القرآن) دا حدیث دقرانکریم تر کوم فضیلت پورې تعلق لري؟

جواب : دا دقرآنکریم د حفظ کولو تر فضیلت پورې تعلق لري او ترې نه ثابتیږي .

السوال السابع : (اقرؤالقرآن فانه يأتي يوم القيمة شفيعا لاصحابه) دا حدیث دقرانکریم تر کوم فضیلت پورې تعلق لري؟

جواب : دا قرآنکریم د قرائت کولو تر فضیلت پورې تعلق لري او ترې نه ثابتیږي.

السوال الثامن : هغه کوم کس ده چې حدیث کې راغلي چې د قرآنکریم په تلاوت سره الله پاک ج دوه اجره ورکوي؟

جواب : هغه کس چې د قرآنکریم تلاوت په سختۍ سره کوي د ژبې د بندښت له وجې.

السوال التاسع : د قرآنکریم څونومونه دي؟

جواب : پنځه اول القرآن دوهم الفرقآن دریم التنزيل څلورم الذکر پنځم الكتاب

السوال العاشر: قرآنکریم څو صفتونه لري ؟

جواب : قرآنکریم زیات صفتونه لري چې له جملې څخه یې یو څو دلته ذکر کوو النور الهدى الشفا الرحمة الموعضة المباركة البشير النذير و غيرذالک.

السوال حادى عشر : دقرانکریم وجه د تسمیې څه ده په قران سره؟

جواب : ځکه زیات ځله الله پاک ج په قران سره ورنه تعبیر کړی لکه سورة ق کې (ق والقرآن المجيد).

السوال اثناعشر : وجه دتسمیې د قرآن په فرقان سره څه ده؟

جواب : څکه الله پاک ج په سورة فرقان کې په اول آيت کې فرمايي (تبارک الذي نزل الفرقان على عبده ليکون للعـلمين نذيرا)

سوال ۱۳ : وجه د تسميې د قرآنکريم په تنزيل سره څه ده؟

جواب : څکه په سورة الشعراء کې يو آيت ده الله پاک ج فرمايي (وانه لتنزيل رب العلمين . نزل به روح الامين)

سوال ۱۴ : وجه د تسميې د قرآنکريم په الذکر سره څه ده؟

ځواب : څکه په سورة الحج کې الله پاک ج فرمايي (انانحن نزلناالذکر وانا له لحافظون)

سوال ۱۵ : وجه د تسميې دقرآن په الکتاب سره څه ده؟

ځواب : څکه په سورة الدخان کې الله پاک ج فرمايي (حم والکتاب المبين)

سوال ۱۶ : د قرآنکريم لفظ اسم مشتق ده او که اسم علم ده؟

جواب : بعضې علماء کرام وايي اسم مشتق ده او بعضې علماء کرام وايي اسم علم ده صحيح خبره داده چې اسم علم د

سوال ۱۷ : د قرآنکريم د نزول شروع کله شوې او نبي کريم ص د څومره عمر وه؟

ځواب : په ۱۷ د رمضان المبارک او د نبي کريم ص عمر مبارک ۴۰ کاله وه

سوال ۱۸ : اول وار په نبي کريم ص باندې په کوم ځای کې وحي نازله شوه؟

جواب : په مکه مکرمه کې د حرا نومي غار کې

سوال ۱۹ : مخکې له نزول دوحي نه نبي کريم ص ته د بل کوم شي نزول کيده او کنه؟

جواب : مخکې له وحي نه رسول ص ته فقط ريښتوني خوبونه ورليدل کيدل داسي ديښتوني لکه دسهار روښنايي

سوال ۲۰ : روح الامين او روح القدوس چې قرآنکريم کې ليکل کيږي څوک ترينه مراد ده؟

ځواب : حضرت جبرائل عليه السلام

سوال ۲۱ : د قرآنکريم اول کوم ايتونه نازل شوي دي او اخر کوم ؟

ځواب : اول د سورة اقرأ پنځه ايتونه او په اخيري نزول کې دعلماء کرامو اختلاف ده بعضې وايي د سورة بقرة (۲۸۱) ايت او بعضې وايي د سورة مائدې دريم ايت

سوال ۲۲ : اليوم اکملت لکم دينکم الاية) دغه آيت په کوم وخت او په کوم ځای کې نازل شوی ده؟

جواب : دغه ايت مبارکه په عرفات کې دجمعې په ورځ بعدالعصر نازل شوی ده

سوال ۲۳ : هغه کوم آيت ده چې حضرت عمررض ته يو يهودي اوويل چې که دغه ايت په مونږ يهودو نازل شوی وای مونږ به دغه ورځ عيد ګرزولې وای

جواب : هغه دا ايت مبارکه ده (اليوم اکملت لکم دينکم) الاية

سوال ۲۴ : په قتال چې کوم ايتونه نازل شوی ايه مکی دي او که مدني؟

ځواب : په مکه مکرمه کې مسلمانان ضعيف حالت کې وه نو بانا د قتال امر نده ورته شوی او کله چې مسلمانانو مديني منورې ته هجرت وکه او قوت ورته حاصل شو نو د قتال امر ورته وشو نو ايتونه دقتال مدني دي

سوال ۲۵ : د قتال په اوامرو کې اول کوم امر نازل شوی ده؟

ځواب : دسورة الحج (۳۹ او ۴۰) ايتونه نازل شوی دي (أذن للذين يقتلون بأنهم ظلموا وان الله على نصرهم لقدير)

سوال ۲۶ : د شرابو په تحریم کې اول کوم ایت نازل شوی ده؟

ځواب : د سورة بقرة (۲۱۹) ایت (یسئلونک عن الخمر والمیسر وفیهما اثم کبیر ومنافع لناس)

سوال ۲۷ : په مکه مکرمه کې اول کوم ایت په اطعمه وو نازل شوی ده؟

ځواب : دسورة انعام (۱۴۵) ایت (قل لااجد فیمااوحي الیَّ محرم علی طاعم یطعمه) الایة

دوهم فصل

سوال ۱ : د قرآنکریم نزول څو ځله شوی ده؟

جواب : دوه ځله اول نزول په یو وار جملة واحدة له لوح محفوظ نه اسمان ددنیا ته د لیلة القدر په شپه کې دوهم نزول له اسمان ددنیا نه ځمکې ته نجمانجما نازل شوی ده په قدر د ضرورت باندې په تول د ۲۳ کالونو کې

سوال ۲ : د قرآنکریم اول وار نزول له کوم ځای څخه کوم ځای ته شوی او په کومه شپه کې شوی او دلیل یې څه ده؟

جواب : د قرانکریم اول وار نزول له لوح محفوظ نه اسمان ددنیا ته شوی او په شپه دلیلة القدر کې دلیل یې لاندې ایتونه دي .اول دسورة الدخان اول ایتونه (حم والکتاب المبین انا انزلناه فی لیلة مبارکة اناکنا منظرین)دوهم دلیل (اناانزلناه فی لیلة القدر وما ادراک ما لیلة القدر) دریم دلیل د سورة بقرة ۱۸۵ ایت (شهررمضان الذی انزل فیه القرآن) او همدارنګه ددې خبرې تایید په ډیرو صحیحو احادیثو سره هم شوی ده لکه د ابن عباس رض حدیث ده (انزل القران فی لیلة القدرفی شهر رمضان الی السماء الدنیا جملتا واحدتا ثم انزل نجوما)رواه طبراني

سوال ۳ : هغه کوم صحابي وه چې ویل به یې چې ځما په زړه کې شک واقع ده په باره ددغه ایت کې (شهررمضان الذی انزل فیه القران) مطلب شک یې پدې کې وه چې ایت کې خو راغلي چې قرآنکریم د رمضان په میاشت کې نازل شوی ده اما مونږ وینو چې په نورو میاشتو کې هم قرآنکریم نازیلیلږي؟

جواب : دغه صحابي حضرت عطیه بن اسد رض ده

سوال ۴ : بیا ددې سوال ځواب دغه صحابي رض ته چا او څنګه ورکه؟

جواب : ددې سوال ځواب حضرت عبدالله بن عباس رض ورکه او داسې ځواب یې ورکه چې دې ایت نه مراد هغه اول وارنزول ده کوم چې له لوح محفوظ څخه اسمان ددنیا ته شوی

سوال ۵ : هغه کوم عالم ده چې د قرآنکریم په اول نزول باندې یې اجماع را نقل کړې ده؟

جواب : هغه عالم امام قرطبي رح ده چې دا خبره علامه سیوطي رح رانقل کړې ده

سوال ۶ : دقرآنکریم په دوه وارې نزول کې حکمت څه ده؟

جواب : په التبیان کتاب کې وایي چې کیدای سي حکمت پکې لوی والی د امر دقرآنکریم وي او لوی والی د شان د هغه چا چې دغه کتابورباندې نازل سوی ده او خبرورکول هغه چاته چې په اسمانونو کې اوسیږي چې دا اخیري کتاب ده چې په خاتم الانبیاء لپاره د اشرف د امتونو نازل شوی ده

سوال ۷ : قرآنکریم چې ځمکې ته ټوټه ټوټه نازل شوی ده پدې باندې دلیل څه ده؟

جواب : دلیل پدې باندې د سورة الاسراء ۱۰۶ ایت (وقرانا فرقناه لتقرئه علی الناس الایة)

سوال ۸ : د سورة الفرقان ۳۲ ایت دا په چاباندې رد کول دي او ولی ردورباندې کیږي؟

جواب : دغه ایت (وقال الذین کفروا لولانزل علیه القرآن جملتا واحدتا کذالک لنثبت به فئدک ورتلناه ترتیلا) پدې ایت کې رد ده په یهودو باندې او څکه رد ده وربانډې چې دوئ به ویل چې قرآنکریم که د الله ج کتاب وي نو باید ټول په یو وار په نبي کریم ص باندې نازل شوی وای لکه تورات په حضرت موسی ع او دانور اسماني کتابونه

سوال ۹ : قرآنکریم د څو حکمتونو په اساس نجما نجما نازل شوی ده؟

جواب : د ۶ حکمتونو په اساس اول تثبیت کول د زړه د نبي کریم ص په وخت د ضرر رسولو د مشریکینو ده مبارک ص ته دوهم لطف او احسان کول له نبي کریم ص سره په نزول د وحې کې دریم تدریج کول په اسماني احکامو کې څلورم ددې لپاره چې د قرآنکریم حفظ او فهم په مسلمانانو باندې اسانه شي پنځم راتلل د حایثو او واقیعو او خبر ورکول په همغه وخت کې شپږم ښودل د هغه منبع ددې کتاب چې منبع ددې کتاب هغه تنزیل ده دحکیم او حمید ذات او دحکیم ذات نزول بنا په حکمت باندې وي

سوال ۱۰ : ددې شپږو حکمتو لپاره کوم دلیل شته؟

جواب : هو ددې ټولو حکمتونو لپاره دلائل شته د اول حکمت لپاره دلیل د سورة فرقان ۳۲ ایت (وقال الذین کفروا لولانزل علیه القرآن جملتا واحدتا کذالک لنثبت به فئدک ورتلناه ترتیلا)

سوال ۱۱ : د سورة الانعام ۳۴ ایت (ولقد کذبت رسل من قبلک فصبروا علی ما کذبوا واوذوا حتی اتاهم نصرنا ولا مبدل لکلمات الله و لقد جائک من نبئ المرسلین) ددې ایت شان نزول څه ده

جواب : ددې لپاره چې کله به نبي کریم ص ته د کفارو او مشریکینو لخوا تکلیفونه رسیدل او دده مبارک خبره به یې نه منله او دده مبارک تکذیب به یې کاوه نو نبي کریم ص به ډیر خپه وه نو الله پاک ج به ده مبارک ص ته د اطمنان او تسکین لپاره د مخکینیو انبیاوو کیسې بیانولې

سوال ۱۲ : کله به چې نبي کریم ص ته زیات تکلیفونه رسیدل د دعوت په برخه کې د کفارو لخوا نه نو الله پاک ج به ده مبارک ص ته په کومو شیانو باندې اطمینان او تسکین ورکاوو؟

جواب : درې شیان دي چې الله پاک ج به نبي کریم ص وربانډې تسلیت ورکاوو اول دا چې تسلیت به د نورو انبیاوو په قیسو باندې ورکول کیده لکه دا مخکې د سورة الانعام ۳۴ ایت چې ذکر شو او دوهم کله به تسلیت په وعده نصرت سره وه لکه د سورة الفتح په دریم ایت کې الله پاک ج فرمایي (وینصرک الله نصرا عزیزا) او دریم کله به تسلیت ورکول کیده پدې باندې چې به ستا دښمنانو ته شکست ورکوم لکه الله پاک ج فرمایي (سیهزم الجمع و یولون الدبر)

سوال ۱۳ : ددوهم حکمت لپاره دلیل څه ده؟

جواب : دلیل وجه د ترس خوف او هیبت ددې کتاب چې کله به دا کتاب په نبي کریم ص باندې نازیلدو نو پده مبارک ص باندې به ډیر خوف او هیبت وه نو ددې وجې نه دا کتاب په نبي کریم ص باندې نجما نجما نازل شوی ده لکه الله پاک ج په سورة المزمل ۵ ایت کې فرمایي (سنلقي علیک قولا ثقیلا)

سوال ۱۴ : ددریم حکمت لپاره دلیل څه ده؟

جواب : دلیل واضح ده هغه دا چې پدې کې د انسانانو زیات خیال ساتل شوی ده تر څو دوئ په احسنه طریقه دغه دین او مسائل ددین زده کړي او عمل وربانډې وکړي او له نواهي وو نه په اسانۍ سره اجتناب وکړي مثال لکه تحریم د شرابو

سوال ۱۵ : د شرابو تحریم په څومرحلوباندې شوی ده؟

جواب : په څلورو مرحلو باندې شوی ده په اوله مرحله کې د مسلمانانو له شرابو نه نفرت پیداکول لکه په سورة النحل ۶۷ ایت کې الله پاک ج فرمایي (ومن ثمرات النخیل والاعناب تتخذون منه السکرو رزقا حسنا ان فی ذالک لایة لقوم یعقلون) دوهمه مرحله لکه په سورة بقرة ۲۱۹ ایت کې الله پاک ج فرمایي (یسئلونک عن الخمر والمیسر قل فیهما اثم کبیر و منافع لناس و اثمهما اکبر من نفعهما)

سوال ۱۶ : دغه ایت کې چې نفعه ذکر شوه کومه نفعه ورنه مراد ده؟

جواب : ددې نه نفعه د تجارت مراد ده فقط لکه دغه خبره امام قرطبي هم کړې ده

سوال ۱۷ : ددې ایت شان نزول څه ده؟

جواب : یو جماعت د صحابه یې کرامو رسول الله ص ته راغی او پدې کې حضرت عمر بن خطاب رض هم وه او رسول الله ته یې اوویل وای مونږ ته د شرابو باره کې خبر راکړه نو بیا الله پاک ج دا ایت نازل کړو

دریمه مرحله د شرابو د تحریم هغه دا چې الله پاک ج فقط د لمانځه په وخت کې پدئ حرام کړل لکه په سورة النساء ۴۳ ایت الله ج فرمایي (یاایهاالذین امنوا لاتقربوا الصلوة و انتم سکری)

سوال ۱۸ : ددې ایت شان نزول څه وه؟

جواب : یو وخت حضرت عبدالرحمن بن عوف رض ولیمه تیاره کړې وه چې ډېر صحابه یې کرام رض یې دعوت کړي وه چې پدې کې حضرت علي رض هم وه نو حضرت علي رض وایي چې کله یې مونږ دعوت کړي وه نو مونږ یې په شرابو باندې سیرابه کړو نو بیا د لمانځه وخت راغی نو حضرت علي رض فرمایي وای زه لمانځه ته مخکې شوم او په لمانځه کې مې (قل یایهاالکفرون) سورة شروع که او ما دا سورة داسې تلفظ کاوو (قل یایهاالکفرون اعبد ماتعبدون ونحن نعبد ماعبدتم) نو دا واقعه سبب دنزول ددې ایت شوه

څلورمه مرحله د تحریم د شرابو هغه دا چې قاطع حکم په باره د شرابو کې نازل شو او په مکمله توګه شراب حرام شول لکه په سورة مائدة ۹۰ ایت کې الله پاک ج فرمایي (یاایهاالذین امنوا انما الخمر والمیسر والانصاب والاظلام رجس من عمل الشیطن فاجتنبوه لعلکم تفلحون)

سوال ۱۹ : ددې ایت سبب دنزول څه وه؟

جواب : د تبیان ملاصاحب ددې ایت د شان نزول لپاره واقعه ذکر کړې ده چې صحابه کرامو رض به د ماخوستن له لمانځه نه روسته مجلسونه کول او شراب به یې هم خوړل نو یوه ورځ حضرت حمزه رض په یو مجلس کې شراب ډېر وخوړل نو ډېر سکر او نیشه شو کله چې لاړو نو د حضرت علي رض ناقه او بقره وه هغه داوړه یې خوشې کړل نو علي رض ډېر خپه وه او نبي کریم ص ته یې شکایت وکړو چې حمزه رض داسې کار کړی ده نو نبي کریم ص چې حضرت حمزه رض رااوغوښته بیا حضرت حمزه رض دا خبره ورته وکړه (وهل انتم الاعبیدي لابي) نو کله چې نبي کریم ص پوهه شو چې حمزه رض ډېر سکران او نیشه ده نو هیڅ یې هم او نه ویل او چپ پاتې شو او په دغه وخت کې حضرت عمر رض هم موجود وه او دا دعا یې وکړه (اللهم بین لنا فی الخمر بیانا شافیا) نو کله چې دا واقعه پیښه شوه نو دا وقعه هم وه او د حضرت عمر رض دعا هم وه نو الله پاک ج دا ایت نازل کړو

سوال ۲۰ : د سورة (طه) د ۱۱۴ ایت (فتعالی الله الملک الحق ولاتعجل باالقرآن من قبل ان یقضی الیک وحیه وقل رب زدني علما)ا شان نزول څه ده؟

جواب : ددې ایت نزول هغه وخت شوی چې نبي کریم ص به له وحې سره زیات په تکلیف وه او کله به چې وحې ورته وشوه نو زرزر به یې تلاوت کولو او ځان سره به یې دا فکر کاوو چې مانه هیر نه شي نو بیا الله پاک ج دا ایت نازول کړو

سوال ۲۱ : د سورة القیامة ۱۶ تر ۱۹ ایتونو (لاتحرک به لسانک لتعجل به انا علینا جمعه وقرئانه . فاذا قرئناه فاتبع قرئانه . ثم ان علینا بیانه) ددې شان نزول څه وه

جواب : ددې ایتونو شان نزول داوه چې کله به جبریل ع نبي کریم ص ته وحې کوله نو وحې به لا خلاسه نوه نبي کریم ص زر زر لوستلو او دا فکر به یې کاوه چې رانه هیر نشي نو الله پاک ج دا ایتونه نازل کړه

سوال ۲۲ : حضرت جبریل ع به نبي کریم ص ته د قرآنکریم د تکرار لپاره په کال کې څو ځله راته؟

جواب : یو ځل او هغه به هم د رمضان المبارک په میاشت کې راتلو او له نبي کریم ص سره بې د قرانکریم تکرارکاوو

سوال ۲۳ : په کوم کال حضرت جبریل ع نبي کریم ص ته دوه ځله دقرآنکریم د تکرار لپاره راغلی وه او په دغه دوه ځله راتګ کې څه شي ته اشاره وه ؟

جواب : پدې دوه ځله راتګ کې اشاره د نبي کریم ص وفات ته وه او دا د حبیب ع د وفات په کال دوه ځله راغلی ده

سوال ۲۴ : د قرآنکریم الفاظ د الله پاک ج کلام ده او کنه؟

جواب : بعضې علمآء وایي چې جبریل ع به فقط د معنی ګانو نزول کاوو په نبي کریم ص باندې او نبي کریم ص به بیا تعبیر ترینه په لغت عربي سره کاوه یعني دې قول نه دا معلومیږي چې الفاظ د قرآنکریم دا الله پاک ج کلام نده او بعضې علماء کرام وایي چې معنی ګانې د الله تعالی دي او الفاظ د حضرت جبریل ع دي خو صحیح قول همداده

اوبل قول داده چې الفاظ او معنی دواړه د الله پاک له طرفه دي او دواړه د الله ج کلام ده

سوال ۲۵ : آیه سنت د نبي کریم ص دا د الله پاک له طرفه وحې وه او که بیدون د وحې نه وه؟

جواب : معاني د الله پاک له طرفه وحې وه او الفاظ د نبي کریم ص مبارک دي دلیل د سورة النجم ۳او۴ ایتونه (ومانیطق عن الهوی . ان هو الاوحی یوحی) امام سیوطي رح له علامه جویني رح نقل کوي وای علامه جویني رح وایي چې د الله پاک ج کلام چې نازیلیږي دوه قسمه ده اول هغه چې الله پاک ج جبریل ع ته اووایي لاړ شه او نبي کریم ص ته اووایه چې فلان فلان کار وکړه او بیا جبریل ع راشي او هغه څه نبي کریم ص ته اووایي چې الله پاک ج ورباندې رالیګلی ده دوهم هغه چې هغه چې الله پاک ج جبریل ع ته اووایي چې اووایه دا کتاب په نبي کریم ص باندې او جبریل ع بغیر له تغیر نه هغه څه نبي کریم ص ته راوړي کوم چې الله پاک ج ورته ویلي دي اوس نزول د قرآنکریم دا د دوهم قسم څخه وه او سنت دا له اول قسم څخه وه .

دریم فصل

سوال ۱ : دا چې علماء کرام د قرآنکریم د ایتونو لپاره سبب نزول بیانوي ایه ددې لپاره فائده شته او کنه؟

جواب : د ایت د سبب نزول لپاره ډیرې فائدې شته چې علماء داسې بیان کړې دي اول د حکم هغه علت معلومیږي چې د هغه لپاره د غه حکم شوی وي دوهم په سبب نزول سره دا دفعه کیږي چې له ظاهر د ایت څخه حصر معلومیږي یعني ظاهر دایت که وګورې نو حصر معلومیږي خو کله یې چې سبب دنزول بیان شي نو معلومیږي چې دې ایت کې حصر نشته بلکې دا یو عام حکم ده دریم تخصیص د حکم په خپل سبب سره کیږي په نز دهغه کسانو چې حکم تر خپل سبب پورې خاص بولي څلورم د هغه شخص نوم پیژندل کیږي د چا باره کې چې ایت نازل شوی ده پنځم د ایت معنی په صحیح شکل سره فهمیږي

سوال ۲ : اول تصنیف په اسباب النزول کې کوم عالم کړی ده؟

جواب : د امام بخاري رح استاذ علي بن المدیني رح

سوال ۳ : د سورة بقرة ۱۱۵ ایت(و لله المشرق والمغرب فاینما تولوا فثم وجه الله ان الله واسع علیم) د چا په حق کې نازل شوی ده؟

جواب : دا د هغه چا په حق کې نازل شوی ده چې قبله ورنه ورکه وي نو دی که هر طرف ته مخ کړي له تحری نه روسته یې لمونځ صحیح ده

سوال ۴ : هغه کوم ایت مبارکه ده چې بعضې جاهلانو دا ورنه فهم کړې وه چې شراب چیکل حلال دي؟

جواب : د سورة المائدة ۹۳ ایت (لیس علی الذین امنوا وعملوا الصلحت جناح فیما طعموا اذا ما اتقوا و امنوا وعمل الصلحت ثم اتقوا و امنوا ثم اتقوا و احسنوا والله یحب المحسنین) نو له دې ایت نه بعضې جاهلانو دا فهم کړی وه

چې شراب چیکل حلال دي مام دا فهم ددوئ ډېر غلت وه ځکه ددې ایت شان نزول که وګورو دا دهغه چا په حق کې نازل شوی وه چې هغوئ مړه شوي دي او شراب یې چیکلي دي یا یې قبل التحریم چیکلي دي

سوال ۵ : هغه کوم ایت وه چې مروان بن الحکم یې په معنی نه پوهیده او حضرت بن عباس رض یې ورته اصلي ترجمه وکړه؟

جواب : هغه دسورة آل عمران ۱۸۸ ایت (لاتحسبن الذین یفرحون بما اتو ویحبون ان یحمدوا بما لم یفعلوا فلا تحسبنهم بمفازة من العذاب ولهم عذاب الیم)

سوال ۶ : د سورة البقرة ۱۵۸ ایت (ان الصفی والمروة من شعائرالله فمن حج البیت او عتمر فلا جناح علیه ان یطوف بهما ومن تطوع خیرا فان الله شاکر علیم) حضرت عروه بن زبیر څنګه ترجمه کاوو اوڅه مطلب یې ورنه اخیستی وه؟

جواب : حضرت عروه رض له دې ایت دا مطلب اخیستی وه چې که څوک په حج کې په صفا او مروا باندې طواف ونکړي نو دا وای صحیح ده یعني دا طواف لازمي نده حضرت عائشه رض وایي وای دا معنی یې نده کومه چې حضرت عروه رض یې کوي ځکه که چیرته دا معنی وای نو الله پاک ج به داسې فرمایلي وای (فلاجناح علیه ان لا یطوف علیهما) نو اصلي ترجمه یې هله معلومیږي چې شان نزول ددې ایت معلوم کړې

سوال ۷ : ایه د جاهلیت په زمانه کې هم سعي وه په منځ د صفا او مروه کې او که وه دا سعیه د چالپاره کیده؟

جواب : د جاهلیت په زمانه کې هم دا سعیه وه او په صفا او مروا باندې دوه داني بوتان کیښودل شوي وه او مشرکانو به دې ه طوافونه کول او ددې ترمابین به یې سعیه کوله

سوال ۸ : په صفا او مروا باندې چې کوم بوتان وه د هغو نومونه څه دي؟

جواب : د صفا غونډۍ باندې چې کوم بوت وه د هغه نوم اِصافه او د مروا په غونډۍ چې وه د هغه نوم نائله وه

سوال ۹ : هغه کوم ایت ده چې د هغه په نزول سره د بعضې صحابه یې کرامو رض هغه شبهه ختمه شوه چې د بعضې ښځو عدت په قرآنکریم کې نده ذکر شوی؟

جواب : د سورة طلاق ۴ ایت (والائي یئسن من المحیض من نسائکم ان ارتبتم فعدتهن ثلاثة اشهرو والائي لم یحضن و اولاة الاحمال اجلهن ان یضعن حملهن ومن یتق الله یجعل له من امره یسرا)

سوال ۱۰ : هغه کوم صحابي مبارک وه چې عاص بن وائل باندې یې قرض وه؟

ځواب : هغه حضرت خباب بن الارت رض

سوال ۱۱ : د سورة مریم ۷۷نه تر ۸۰ ایتونه(افرئیت الذي کفر بایاتنا و قال لأوتین مالاوولدا ـ اطلع الغیب أمن اتخذ عند الرحمن عهدا. کلا سنکتب ما یقول و نمد له من العذاب مدا.) دچا په حق کې نازل شوي دي؟

ځواب : دا ایتونه د عاص بن وائل په حق کې نازل شوي دي

سوال ۱۲ : د سورة بقرة ۱۸۹ ایت (یسئلونک عن الأهل قل هی مواقیت لناس والحج ولیس البر بأن تأتوا البیوت من ظهورها و لکن البر من اتقی و أتوا البیوت من ابوابها و اتقوا الله لعلکم تفلحون) دا دچا په حق کې نازل شوی ده؟

جواب : دا حضرت معاذ رض په حق کې نازل شوی ده

سوال ۱۳ : نص یې صریح په اسبابو د نزول کې کوم یو ته ویل کیږي؟

جواب : نص صریح دیته وایي چې راوي تصریح وکړي په لفظ د سبب سره لکه دا قول د روای سبب دنزول ددې ایت دا او دا ده او یا په ماده د نزول باندې فا داخله کړي لکه داسې اوویي (سئل عن النبي ص کذا فنزلت کذا)

سوال ۱۴ : دغه لفظ سبب د نزول ده او که نه (نزلت هذه الایة فی کذا)؟

جواب : ددې نه کله اراده دسبب وي او کله ورنه اراده دسبب نه وي بلکې مراد ورنه داوي چې دا ايت متضمن حکم لره ده

سوال ۱۵ : دايت په نزول کې عبرت عموم د لفظ لره ده او که خصوص د سبب لره؟

جواب : پدې مسئله کې د علماء کرامو اختلاف ده بعضې وايي د ايت په نزول کې عبرت عموم د لفظ لپاره ده او بعضې وايي د ايت په نزول کې عبرت خصوص دسبب خصوص ته ده نه عموم دلفظ ته

سوال ۱۶ : آيا په صحابه کرامو کې هم دا سې واقعې شته چې اعتبار يې عموم دلفظ ته ورکړی وي؟

جواب : هو بلکل شت لکه ايت دظهار چې دا د حضرت سلمه رض په حق کې نازل شوی وه او حکم يې بيا عام ده دوهم لکه ايت د لعان چې دا هلال بن اميه رض په باره کې نازل شو خوحکم خاص تردې سببه پورې نده بلکې حکم يې عام ده دريم لکه ابن عباس رض نه ددې ايت باره کې پوښتنه وشوه (السارق والسارقة فاقطعوا ايديهما) چې دا خاص دی او که عام ده مبارک ورته اوويل چې دا عام ده که څه هم د يوې ښځې په حق کې نازل شوی

سوال ۱۷ : ايا د سورة احقاف ۱۷ ايت(والذي قال لوالديه اف لکما) د عبدالرحمن بن ابي بکر په باره کې نازل شوی ده او کنه؟

جواب : دغه ايت هيڅکله د عبدالرحمن بن ابي بکر باره کې نده نازل شوی او حضرت عائشه رض دا خبره په کلکه سره رد کوي

سوال ۱۸ : د ايت سبب نزول په کومه طريقه سره معلوميږي؟

جواب : د ايت سبب نزول يوازې او يوازې په نقل سره معلوميږي په عقل باندې نه معلوميږي

سوال ۱۹ : که د علماء کرامو د يو ايت په سبب نزول کې مختلف اوقوال راغلي وو يعنې يو عالم يو سبب نزول ښودلی وي او بل عالم بل سبب نزول نو دلته به کوم سبب د نزول بلل کيږي؟

جواب : دسبب نزول اختلاف په مختلفو صورتونو تقسيم شوی ده اول صورت داده چې په دوه روايتونو کې مختلف سبب ذکر شوی وي په يو روايت کې تصريح وي او بل روايت کې تصريح نوي په دغه صورت کې هغه قول ته ترجيح ورکول کيږي چې تصريح ورباندې شوی وي

دوهم صورت داده چې په دواړو رواياتو کې تصريح وي خو يو په دوئ کې ضعيف وي په دې صورت کې اعتماد په هغه قول ده چې د سند په لحاظ قوي وي دريم صورت داده چې د سبب نزول په بيان کې دوه روايتونه راغلي وي او د سند په لحاظ هم يو ډول وي په دې صورت کې بيا نورو ترجيحاتو ته کتل کيږي لکه مثلا يو روايت د ايت له مضمون سره ښه برابر وي نو پدې صورت کې بيان هغه قول معتبر ده چې نور ترجيحات ولري

څلورم صورت چې دوه روايتونه موجود وي خو په زمانه کې سره نږدې وي يعنې په يوه زمانه کې دا دوه سببونه ددې ايت لپاره روايت شوی وي نو پدې صورت دا دواړه په حکم د يو سبب کې گرزي

پنځم صورت داده چې دوه روايتونه راغلي وي او په زمانه کې هم سره لرې وي او د سند په لحاظ هم دواړه قوي وي او يو پربل ترجيح هم نلري او دواړه صريح هم وي خو يو روايت کې ثابت وي چې د ايت شان نزول دا رقم ده او په هغه بل کې ثابت وي چې د ايت شان نزول هغه د اول په رقم نده بلکې دا رقم ده پدې صورت کې تطبيق دا رقم ده چې دا يو ايت دوه وارې نازل شوی ده نو د اول لپاره هم سبب کيدلی شي او ددوهم لپاره هم سبب کيدلی شي

سوال ۲۰ : چې يو ايت د خاص سبب په اصاص نازل شوی وي او حکم يې عام وي ايا دا ايت تر دغه سبب پورې خاص کيږي او که د حکم عموم ته اعتبار ورکول کيږي؟

جواب : پدې صورت کې د سبب خصوص ته اعتبار نشته بلکې د حکم عموم ته اعتبار ده او د حکم عموم ته به کتل کيږي

(ستاسو ددعا محتاج مولوي حفيظ الله حيدري)